

# پښتانهٔ

## ځلورم فصل

## پښتانهٔ پخوا چېرې اوسېدل؟

## ۸

دکتور حبیب الله تږے

پخواني ليکلي شوي اسلامي آثار او اسناد له لسمې نه تر شپاړسمې ميلادي پېړۍ پورې، د هغې سيمې په بيلو بيلو برخو کښې د پښتنو د استوګنې يادونه کوي چې له آمو نه تر اټکه، له هراته تر کشميره، له کرمانه تر ملتانه او له چترال نه د عربو د بحيرې تر حدودو پورې امتداد لري. (۱)

خو وړومبے مونږ په هغو سيمو کښې د پښتنو په باره کښې يادونې را اخلو چې د غزني، زابل، کابل، پکتيا او ننګرهار له ناوو او شاوخوا سيمو نه تر اباسينه پورې امتداد لري.

### پښتانهٔ په پکتيا او شاوخوا سيمو کښې:

حدود العالم من المشرق الي المغرب چې په کال ۳۷۲ هجري کښې په فارسي ليکل شوے او د مؤلف نوم ئې نهٔ دے معلوم، د اسلامي دورې وړومبنے معلوم اثر دے چې په دې زمکو کښې د افغانانو د سکونت يادونه کوي. دا لرغونے اثر د ګردېز له شرحې نه وروستو، سمدستي د پکتيا د سيمې يو کلے داسې معرفي کوي:

((سول (۲) په غرهٔ کښې يو اباد کلے دے او افغانان پکښې هست دي. له دې ځايه تر حسينانه پورې لار د دوو غرونو ترمنځ پرته ده.... دا لار له مخاطرې او بيم نه ډکه ده.)) (۳)

يو بل ډېر پخوانے اثر چې په هم دې حدودو، غالباً د پکتيا او پکتيکا په سيمو کښې، پښتانهٔ مېشته ګڼي هغه د عبدالجبار عتبي (مړګ ۴۲۷ هجري) تاريخ يميني دے. عتبي چې د سبکتګين او سلطان محمود د واکدارۍ وقائع ئې تر کال ۴۱۲ هجري پورې ثبت کړي دي يو ځائے داسې ليکي:

((ځنګه چې د اوړي ګرمي تېره شوه، سلطان د هغو افغاني طائفو د ټکولو دپاره ورووت چې په لوړو درو او خپلو غرنيو ټاټوبو کښې اوسېدل او کله چې سلطان (محمود) د قنوج غزا ته وتے ؤ د هغهٔ د ملک په لمنو کښې ئې نا ارامي پېدا کړې وه. دهٔ (سلطان) وغوښتل چې په هغو (افغانانو) يرغل وکړي، مېنه ئې ور ورانه کړي او له شر نه ئې ځان خلاص کړي. له غزني نه په دې نامه ووت چې ګوندې کومه بله خوا ځي خو يو ناڅاپه په هغوي (افغانانو) ور ولوېد، توره ئې پرې را ووېسته او يو عالم ئې ورنه تباه کړل. (۴)

دا مطلب وروستو نورو مؤرخينو هم ثبت کړے دے. رشيد الدين فضل الله چې جامع التواريخ ئې په کال ۷۰۴ هجري کښې ليکلے دے او حمد الله

قزويني چې تاريخ ګزيده ئې په کال ۷۳۰ هجري کښې تاليف کړے دے په پښتنو د غزنوي سلطان محمود دا حمله تقريباً د عتبي په عباراتو بيان کړې ده. (۵)

ابن اثير (۵۵۵-۶۳۰ هجري) په خپل معروف تاريخ ((کامل)) کښې د کال ۴۰۹ هجري د پېښو د بيان په ترخ کښې د هغو پښتنو يادونه کوي چې له غزني نه بهر د هندوستان د لارې په شاوخوا کښې پراتۀ دي او وائي چې غزنوي سلطان محمود يرغل پرې وکړو او ډېر ئې ورنه ووژل. دې ليکي:

((په هم دې کال يمين الدوله هند ته د غزا دپاره روان شو. خپل فوځ ئې مجهز او تيار کړو... له غزني نه ووت او وړومبے ئې په لاره کښې په دې پېل وکړو چې د افغانانو چاره وکړي. افغانان کافران او وران کاران وو او د خپلو مېنو او غزني ترمنځ دښتې او لارې ئې وهلې. يمين الدوله ور وخوځېدو ابادۍ ئې ور ورانې کړې او مالونه ئې ورنه اولجه کړل. (د افغانانو) ډېر زيات مړۀ او اسير شول او مسلمانانو ئې ډېر مالونه په اولجه ورنه يوړل. (۶)



بلخي عنصري (مړګ ۴۳۱ هجري) هم چې د سلطان محمود د دربار ملک الشعراءؤ په پښتنو د دغه سلطان د يوۀ بل يرغل د بيان په ترخ کښې د پښتنو يادونه کوي او وائي:

شه ګېتي زغزنين تاختين برد. (۷)
بر افغانان و بر ګبران کهبر. (۸)

د فارسي ژبې ځنې نور شاعران هم د غزنويانو په عصر کښې د پښتنو او د هغو د هېواد يادونه کوي او وائي چې غزنوي افسرانو يرغلونه پرې وکړل. مثلاً د غزنويانو د عصر ستر قصيده ليکونکے، مسعود سعد سلمان (۴۴۸-۵۱۵) د غزنويانو د عصر د يوۀ ستر فوځي سالار ((علي خاص)) په ستائنه کښې وائي:

شکسته ګشت به تېغ تو لشکر کفار
خراب شد به سپاه تو کشور افغان (۹)

په يوه بله قصيده کښې وائي:

ګهي شتابان اندر قفاي افغانان
چو اژدهاي دژاګه ميان غار تويي (۱۰)

د مسعور سعد د ژوند ښخي زياته برخه د دوو غزنوي سلطانانو له عصر سره مصادفه ده. يو ئې ابراهيم بن مسعود دے چې له کال ۴۵۰ نه تر کال ۴۹۲ هجري پورې ئې سلطنت کړے او بل د هغۀ زوے سلطان مسعود دے چې له کال ۴۹۲ نه تر کال ۵۰۹ هجري پورې ئې واکداري کړې ده. (۱۱) نو د

مسعود سعد ممدوح علي خاص هم باید د هم دې عصر یو فوځي سالار وي.

کله چې ابن اثیر د کال ۵۰۸ هجري پېښې لیکي او هغه جګړې بیانوي چې د سلطان محمود کړوسیانو، ارسلان شاه بن ابراهیم او بهرام شاه بن ابراهیم د سیاسي قدرت په سر له یوهٔ بل سره کړي دي یو ځل بیا د پښتنو او د هغو د غرونو او ښارونو یادونه کوي.

ابن اثیر لیکي کله چې ارسلان شاه بیا د غزني د تخت نیولو په نیت غزني ته لاړو هلته یوه میاشت پاتې شو او د خپل ورور بهرام شه په لټه کښې ؤ خو کله چې خبر شو چې د سلطان سنجر فوځ د بهرام شاه ملاتړ ته ور روان دے، نو ارسلان شاه تېښته له جنګه غوره وبلله. ځکه هغه پوهېدهٔ چې عسکر ئې له سلطان سنجر نه ډېر زیات ډرېږي. د اوغانانو (۱۲) غرونو ته لاړو او بهرام شاه او د سنجر عسکرو تعقیب کړو او په کومو ښارونو کښې چې هغه (ارسلان شاه) اوسېدهٔ ټول ئې وران کړل او د هر ښار خلقو ته ئې پېغام واستاوهٔ او تهدید ئې کړل. (۱۳)

ابن اثیر وروستو په هم دې سیمه کښې د یوهٔ خاص ښار، کرمان (کړمان) (۱۴) نوم اخلي او اوسېدونکي ئې افغانان بولي. دې د کال ۵۴۷ هجري د پېښو د بیان په ترڅ کښې د سلطان سنجر او غوریانو تر عنوان لاندې لیکي:

علاء الدین حسېن ....د غزني... په ښار حمله وکړه. په دې وخت کښې بهرام شاه بن ابراهیم بن مسعود بن محمود بن سبکتګین په غزني کښې واکداري کوله. دهٔ (بهرام شاه) ونهٔ شو کړے چې له علاء الدین سره ډغرې ووهي او له غزني نه د کرمان ښار ته چې د غزني او هند تر منځ واقع دے وتښتېدو. د دغه ښار اوسېدونکي یو قوم دے چې افغانان نومېږي. دا ښار هغه د کرمان په نامه معروف ولایت نهٔ دے. (۱۵)

وروستو محمد قاسم په تاریخ فرشته کښې د دغو پېښو په ارتباط لیکي:

((بهرام شاه ټینګار ونهٔ شو کړے له غزني نه کرمان ته لاړو. دا کرمان هغه مشهور کرمان نهٔ دے بلکې د غزني، هند او افغان ترمنځ یو ښار دے.)) (۱۶)

محمد قاسم بیا لیکي:

((بهرام شاه.... د بامیانو قلا ته ننوت او په پایې کښې د سلطان سنجر په زور او مرسته بیا غزني ته راغے. ارسلان شاه افغانانو ته وروتښتېدو. د سلطان سنجر لښکر ورپسې ورغے وې نیولو. بهرام شاه ته ئې په لاس ورکړو او هغهٔ وواژهٔ. (۱۷)

فرشته د یوې بلې پېښې د بیان په ضمن کښې هم داسې ښیي چې په کرمان او شاوخوا کښې پښتانهٔ هست دي، دې غزني ته د سلطان شهاب الدین د جنازې د وړلو د پېښې د بیان په ترڅ کښې لیکي چې (( خواجه مؤید الملک د غور امیرانو ته ورغے او په قراره او دلائلو ئې دا ورته ثرګنده کړه چې باید د سیوران (۱۸) او کرمان له لارې غزني ته لاړ شي. (په لاره کښې) د افغاني قبائلو او تراهیه کفارو له لاسه ډېر وتړنېد. کله چې کرمان ته ورسېد تاج الدین یلدز د سلطان د تابوت مخې ته ورووت.)) (۱۹)

د تونس معروف سیاح ابن بطوطه هم په خپله سفرنامه کښې د پکتیکا په سیمه کښې د پښتنو یادونه کوي. دې کله چې په ۱۳۳۳ میلادي کال کښې له کابل نه خوځېږي او هندوستان ته د تګ په

لاره کښې پکتیکا ته رسېږي. هلته د کرماش [۲۰] په دره کښې له پښتنو سره مخامخ کېږي. ابن بطوطه خپله دا پېښه داسې بیان کړې ده.

«له کابل نه کرماش ته لاړو. دا د دوو غرونو ترمنځ یوه قلا ده او هلته افغانان لارې وهي. له دې سیمې نه په جنګ او ګرېز تېر شو. افغانان د غرۀ په لمن کښې وو او زمونږ د غشو د ګزارونو له امله رانه لاړل. مونږ تخمین څلور زره اسونه لرل. څۀ رنګه چې زۀ له اوښانو سره تلم نو ځکه له کاروان نه لرې پاتې وم. یو شمېر کاروانیان چې یو تعداد افغانان هم پکښې وو له ما سره یو ځائے تلل.» [۲۱]

یو بل معتبر پخوانے اثر چې په دې سیمو کښې د پښتنو د سکونت یادونه کوي هغه ظفرنامه ده چې مولانا شرف الدین یزدي د ګوډ تېمور د جګړو او فتوحاتو په باره کښې په کال ۸۲۸ هجري کښې لیکلې ده. په ظفرنامه کښې د تېمور او د هغۀ د جرنېلانو د هغو یرغلونو په باره کښې هم یو لړ مطالب ثبت شوي دي چې په کال ۸۰۰ او ۸۰۱ هجري کښې ئې د پکتیا، بنو او کوهاټ د سیمو په پښتنو کړي دي.

څۀ رنګه چې دا مطالب د پښتنې ټولنې د تاریخي مطالعې په برخه کښې د پوره اعتنا وړ دي نو له دې امله ئې مونږ ټول په یو څۀ اختصار خو په داسې شکل دلته را اخستي دي چې د مفهوم په لحاظ څۀ کمے پکښې را نۀ شي. [۲۲]

یزدي وائي چې په دې سیمو کښې د تېمور اقدامات او عملیات وروستو له هغې لیدنې کتنې نه پیل شول چې په کابل کښې د پکتیا د پښتنو یوۀ قومي مشر ورسره وکړه. مولانا لیکي کله چې تېمور هندوستان ته د تګ په لاره کښې کابل ته ورسېد، هلته د افغانانو یو مشر، ملک محمد، د خپلو رعایاو په ملګرتیا ورغے او عرض ئې ورته وکړو چې د کرکس [۲۳] د قبیلې مشر موسٰي اوغاني د دۀ ورور، لشکر شاه اوغاني چې د امیر تېمور له بنده ګانو څخه ؤ، وژلے دے، د ایریاب [۲۴] قلا ئې ورانه کړې ده او د دوي اسباب او املاک ئې په زور ورنه اخستي دي.



دغه راز ملک محمد تېمور ته ووئیل چې موسٰي اوغاني غلاوې کوي او لارې وهي او هیڅوک هم له دغو سیمو نه سلامت نۀ شي ورنه تېرېدلے. ملک محمد تېمور ته ووئیل زۀ د مرګ له وېرې راتښتېدلے او ستا حضور ته راغلے یم. کله چې تېمور د ملک محمد خبرې واورېدې سخت په غصه شو او ورته ئې ووئیل. تۀ ځان چرته پټ کړه. زۀ غواړم چې موسٰي اوغاني راوغواړم کۀ راغے غچ به ترې واخلم او کۀ رانغے نو تا ته به لښکر درکړم چې د خپل ورور انتقام ترې واخلې.

تېمور موسٰي اوغاني ته په دې مفهوم یو فرمان ولېږۀ چې «تا د ایریاب قلا ورانه کړې ده. دا قلا د هند د لارې په سر واقع او ډېره مهمه ده. تۀ

ځان په منډه راورسوه چې هغه ولايت تاته درکړم او قلا بيرته جوړه کړې.»

ځنګه چې موسٰي اوغاني ته فرمان ورسېدو، په منډه ئې ځان تېمور ته وررسولو. تېمور موسٰي اوغاني ډېر وغتاوو او زردوزي جامې، د زرو ملاوستني او توره او زين کړے اس ئې له ډېرو نورو سوغاتونو سره ورکړو او ورته ئې ووئيل، لاړ شه او د ارياب قلا بيرته جوړه کړه. کوشش وکړه چې ډېره زر ئې خلاصه کړې.

تېمور درې زره مړونه د خپل يوۀ جرنېل په مشرۍ له موسٰي اوغاني سره ملګري کړل چې د قلا په جوړولو کښې همکاري ورسره وکړي. موسٰي اوغاني ايرياب ته لاړو او د قلا جوړولو کار ئې پېل کړو. مولانا شرف الدين وائي چې هره ورځ به له دوو سوو نه تر درې سوو پورې مېړونه د ډول او سرنې نغمو ته په ډېر جديت د قلا په جوړولو لګيا وو.

تېمور د ۸۰۰ هجري کال د ذي الحجې په مياشت کښې له کابل نه پکتيا ته لاړو. ځنګه چې ايرياب ته ورسېد، خپلو لښکرو او ماهرانو ته ئې هم امر وکړو چې د قلا د جوړولو په کار کښې برخه واخلي او ډېر زر ئې داسې يوه قلا جوړه کړه چې يو جامع جومات او ډېر د استوګنې ځايونه او نور واړۀ جوماتونه او نور ځايونه هم پکښې وو.

تېمور خپلو تواچيانو ته وئيلي وو چې د موسٰي اوغاني د هغو اتباعو له جملې نه چې د قلا په جوړولو لګيا وو يو هم پرې نۀ ږدي چې خپلو ځايونو ته لاړ شي. د موسٰي اوغاني مېړونه په دې خبره خبر شوي وو. تېمور يوه ورځ بهر وتلے ؤ او له قلا نه راګرځېدۀ. د موسٰي اوغاني اووۀ تنه اتباع چې په قلا کښې ئې کار کاوۀ، د يوې بالاخانې د ورۀ شا ته ولاړ وو. کله چې تېمور د دغه ورۀ مخې ته ورسېد، د قلا له کړکۍ نه يو غشے پرې ورګوزار شو. غشے د تېمور خوا ته ولګېد او اس ئې وترېد. تېمور خپلو فوځيانو ته امر وکړو چې موسٰي اوغاني او د هغۀ ټول اتباع چې د قلا په جوړولو کښې ئې برخه اخستې وه، ونيسئ. هغو اوو تنو چې په تېمور ئې د غشي ګوزار کړے ؤ جګړه پېل کړه او څو تنه ئې مړۀ کړل. د تېمور مېړونو دا اووۀ تنه ووژل او موسٰي اوغاني او د هغۀ دوه سوه اتباع ئې ونيول او ملک محمد اوغاني ته ئې په لاس ورکړل. ملک محمد اوغاني ټول ووژل او له ککرو نه ئې منارونه جوړ کړل. بيا تېمور خپلو مېړونو ته امر وکړو چې د موسٰي اوغاني په خلقو يرغل وکړي. دوي د موسٰي اوغاني دولس ټول نارينه ووژل او ښځې، ماشومان او مالونه او نور څۀ ئې د ايرياب په خلقو ووېشل. تېمور ملک محمد د هغۀ د ورور لشکر شاه اوغاني په ځائے د دغه ولايت والي وټاکۀ او د ارياب قلا ئې هم هغۀ ته وروسپارله.

تېمور له ارياب نه شلوزان (۲۵) ته لاړو او هلته ئې شهزاده خليل سلطان ته امر وکړو چې له يو شمېر امراوو سره بانو (۲۶) ته لاړ شي او دې خپله له څلور زره سورو سره نغر (۲۷) ته لاړو. هلته ورته ووئيل شول چې د پرنيان (۲۸) په نامه يوې قبيلې د دۀ له اطاعت نه سر غړولے او جنګي مېړونه ئې نۀ دي ورکړي. تېمور ته دا هم ووئيل شو کوم وخت چې د شاهزاده پير محمد لښکر له هندوستان له اولجو او مريانو سره کابل ته روان ؤ، د پرنيان د قبيلې مېړونه پرې ور ولوېدل او لښکر ئې تالا کړو.

تېمور چې دا خبرې واورېدې سخت په غصه شو او په هم دې ورځ د دې اوغانانو ټکولو ته ور روان شو. درې ورځې وروستو ور ورسېدو او جنګي

عملیات ئې پېل کړل. د پرنیان د قوم ډېر زیات خلق ئې ووژل، ماشومان ئې اسیر کړل، اموال او اسباب ئې تالا کړل او کورونه ئې ور وسوځول. تېمور څۀ موده نور هم هلته پاتې شو او غوښتل ئې چې د پرنیان د قوم جرړې له بېخه وباسي او بېخي ئې تباه کړي. خو د پرنیان د قوم یو مشر چې اوبل نومېدۀ تېمور ته په ننواتې ورغے. تېمور نوره تباهي ونۀ کړه. اوبل ئې ډېر ونازاوۀ او خپله د ۸۰۱ هجري کال د محرم په میاشت کښې نغر ته لاړو. خو دې لا نغر ته نۀ ؤ رسېدلے چې امیر سلېمان شاه د قلانیانو (۲۹) اوغانانو په قبیله چې د مولانا شرف الدین په قول «یوه غښتلې، لویه او با ابهته قبیله وه» حمله وکړه. د سلېمان شاه فوځ قلانیان سره له دې چې مولانا وائي «تنه ور او زړور خلق وو» مات کړل. ډېر ئې له تېغه تېر کړل، نور ئې تري ونیول، واړه ئې ورنه اسیر او کورونه ئې ور تالا کړل. تېمور له نغر نه بانو او له بانو نه هندوستان ته لاړو.

مولانا شرف الدین لیکي چې تېمور له هندوستان نه د بېرته راتګ په وخت کښې هم په بانو کښې ستون شو او هلته پیر علي تاز او امیر حسېن قوجین او نورو سردارانو چې د تېمور د فرمان په اساس «د اوغانانو د مفاسدو د دفع کولو دپاره په بنو کښې پراتۀ وو» یوه ګله اسونه او زر غوایان چې د بنو د شاوخوا خلقو نه ئې په زور بیولي وو، تېمور ته وروستل. تېمور اسونه خپلو سردارانو ته وروبخښل خو غوایان ئې بېرته خاوندانو ته ورکړل.

مولانا وائي چې تېمور له بانو نه نغر ته لاړو. «محمود برات خواجه او هندو شاه ئې کابل ته ولېږل چې د هغه ځائے لښکر د افغانانو د شر د دفع کولو دپاره ورولي.» تېمور خپله د هغې قلا د پراخولو دپاره په نغر کښې پاتې شو چې سلېمان شاه «د افغانانو د شر د دفع کولو دپاره جوړه کړې وه». د دې کار له خلاصېدلو نه وروستو د کرماش د درې له لارې، کابل ته وخوځېد، دلته مولانا د یوۀ ستانه پښتانۀ یادونه هم کوي او لیکي چې «شېخ احمد خواجه افغاني د عالم پناه (تېمور) په حضور مشرف شو.» تېمور له کرماش نه لوګر او له لوګر نه کابل ته ځي.

یو بل اثر وائي چې په دې سیمو کښې پښتانۀ مېشت وو. هغه تواریخ حافظ رحمت خاني دے چې اصلاً خواجو ملېزي د تواریخ افاغنه په نامه د ۱۰۳۳ هجري په حدودو کښې لیکلے او بیا پیر معظم شاه په کال ۱۱۸۱ هجري کښې د حافظ رحمت خان په هدایت په خپلو عباراتو لیکلے او د تواریخ حافظ رحمت خاني نوم ئې پرې اېښے دے. تواریخ د بابر د ترۀ الغ بېګ مرزا، په وخت کښې کرمه د خېشکو پښتنو ټاټوبے بولي او لیکي: «فاطمه د ابراهیم د ګدای (زوي) الیاس زي یوسفزي وتښتوله. له کابله ئې کرمې ته راوستله چې مقام د خېشکو دے.» (۳۰)

بابر هم د پکتیا په بیلو بیلو برخو د خپلو یرغلونو او لوټ او تالان د بیان په ترڅ کښې د هغې سیمې د پښتنو په باره کښې ښائسته زیاتې یادونې کړې دي. خو مونږ هغه د پښتنو په باره کښې د بابر له نورو یادونو سره یو ځائے په اووم فصل کښې راوړې دي. ■